# د پروفیسر ډاکټر قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل د شاعرۍ څېړنه

# Critical Analysis of Prof. Dr. Qazi Jabar Khel's Poetry

Azizullah Jabar Khel [1]

This article investigates the poetry of Dr. Hafizullah Khaad Jabarkhil, the writer and poet of the contemporary period of Pashto language and literature. Khaad jabarkhil used to write poems about religious, social, love reform and critical topics. He tried to use words, expressions and compositions that should be simple and easy to understand. He used to write poems expressing the illegal (unlawful) activates in his society. It is worth mentioning that he always criticized the corruption, worry, lie etc. within the society. In short, He tried to use clear and oratory language while writing poems.

په دې لیکنه کښې د پښتو ژبې او ادب د معاصرې دورې د لیکوال، شاعر، پروفیسر ډاکټر حفیظ الله ښاد جبارخېل د شاعرۍ په بېلابېلو اړخونو خبرې شوې دي. ددهٔ د اشعارو بېلابېلې بېلګې راوړل شوې او څېړل شوې دي. او دا روښانه شوې ده چې ښاد جبارخېل په خپله شاعرۍ کښې بېلابېلو (دیني، اجتماعي، عشقي، اصلاحي، انتقادي) موضوعاتو ته ځاے ورکړے او په ساده روانه او خوږه ژبه ئې عالي پښتنې اصطلاحات، کلمې او ترکیبونه کارولي دي. په خپلو اشعارو کښې ئې د خپلې ټولنې ناخوالې په ګوته کړې او ناروا مسایل لکه (رشوت، سود، دروغ، فریب او نور) ئې په سختو الفاظو سره غندلي دي. دغه راز ئې اشعار د فصاحت او بلاغت په ګاڼه سمبال دي. د لفظونو سندریز استعمال او په رنګینو الفاظو کښې د مضمون او معنی وړاندې کول ئې په ښه شان په خپلو اشعارو کښې مراعت کړي دي.

قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل د پښتو ژبې او ادب په اوسنۍ دروه کښې هغه شاعر دے، چې په پښتو، دري او عربي ژبو ئې ښکلې شاعري کړې ده.

---

1 Associate Professor University of Nangrhar, Afghanistan

د ځانګړي سبک خاوند دے، د الفاظو ښه اوډون او د معنی، مفاهیمو او سوژو ښه انتخاب ئې د شاعرۍ ښېګڼې جوړوي. په دې ليکنه کښې کوښښ شوے، چې د ښاد جبارخېل د شاعرۍ بېلابېل اړخونه تر څېړنې لاندې ونيول شي. او ددۀ د شاعرۍ رنګين اړخونه رابرڅېره شي. دغه راز هڅه شوې، چې د دوي د شاعرۍ بېلګې په بېلابېلو موضوعاتو کښې راوړل شي او د تشريحي ميتود په رڼا کښې پرې هر اړخيز بحث او څېړنه ترسره شي. ګوندې د ادب او شعر مينه والو ته به ئې ګټه ورسېږي.

پروفيسر ډاکټر قاضي حفيظ الله ښاد جبارخېل هغه پښتون ليکوال، شاعر، مصنف، ژبپوهاند، صحافي، څېړونکے قاضي وۀ، چې پښتو ژبې او ادب ته ئې ډېر لوړ او قيمتي اثار په ميراث پرېښي دي . زه ئې دلته يوائې د شاعرۍ په اړخ باندې رڼا اچوم . دا چې زه د دوي مشر اولاد يم او ددۀ د ژوند د ژوند بېلابېل اړخونه ما ته په ښه شان څرګند دي، نو په شاعرۍ ئې غږېدل هم راته له نورو اسان برېښي.

د خپلې شاعرۍ د پيل په باب ئې راته ويلي وو: کله مې چې د ماخستن لمانځه نه وروسته اروانښاد پلار (زما نيکه) کور ته راغے نو وې ويل چې نن مې پر لاره داسې يو شعر جوړ کړ:

په ورځې د محشر چې رانما شي محمد (ص)
په امتي له ورايه به ګويا شي محـــــمد (ص)

کله مې چې د پلار د خولې نه دا شعر واورېد، ما سره هم د شعر ويلو فکر پيدا شو او په دې برخه کښې مې د رحمان بابا، رشيد بيان کتابونه لوستل، په کنفرانسونو او مشاعرو کښې به مې ګډون کاوۀ، کله به چې چا په دغو مشاعرو او کنفرانسونو کښې شعرونه لوستل او ډېرو زده کوونکو به دغه شعرونه په خپلو کتابچو کښې ليکل او ويل، نو ما کوښښ کاوۀ چې خپل شعرونه جوړ کړم او وې وايم. نو کله چې په شرعياتو پوهنځي کښې وم، په عربي ژبه مې يو څو شعرونه په کتابچه کښې ليکلي وو. زما يو استاد (احمد مصطفی الخياط) چې د مصر اوسېدونکے و زما د اشعارو کتابچه ئې وکتله او پرې وې ليکل: ((لحظ هذه الكراسه و مملوئةً من اشعار الجميله)). ژباړه: دا کتابچه ملاحظه شوه او له

ښکلو اشعارو ډکه ده. نو له هماغې ورځې نه مې د خپلو شعرونو په کتابچې (ښکلي اشعار) نوم کښېښود.)) (۱)

دغه راز د حصارک سوغات، شتون او غلط نامه په نومونو شعري ټولګې ئې هم د يادونې وړ دي. د ښاد جبارخېل د شاعرۍ بڼ ډېر سمسور دے او د رنګارنګ ګلونو کوړګي په کښې رغېدلي دي. د شاعرۍ بېلابېل اړخونه به ئې د شعرونو په بېلګو کښې وګورو.

قاضي صيب جبارخېل د خپلې ټولنې طبقاتي حالت د بې عدالتۍ ښه په دې شعر کښې په څومره لـــوړ انداز ښکاره کوي او د يو رياليست او نقاد شاعر په حيث خپل تاريخي رسالت سرته رسوي، وائي:

**اى تلې!**

ستا عدل ته حېران يم په تللـو کښې اى تلې
دراندهٔ دې کړل راکښته سپک دې بوتلل پورته ولې

په دارنګه تللو څومره سپکه لا ښکاره شـــوې
چې سپکو سره سپکه هوا کښې ګډېـــــــــدلې

سپک سپک دې درته وايمه په سپکو مه نازېږه
چې سپکو بيا پخپله ته په سپـــــــــکو سپولې

درنو باندې مينه شه درنښت دې په کـار وي
درانهٔ کوي درنو ته په درنښــــت کښې هلې ځلې

دا تول او عدالت چې په تللو کښې دا ستا دے
ښاد نه شو جبارخيل چې دړ ډنډې دې پرې وهلې (۲)

پورتنے شعر چې د غزل په فورم کښې ويل شوے، په ټولنه کښې د بې عدالتۍ حالت په کښې بيان شوے دے، چې امانت په کښې اهل ته نه سپارل کېږي. په پورته شعر کښې يوه ظاهري معنى د تلې

حالت ښکاره کوي او له بلې خوا ئې هغه معنی ده چې د بې عدالتۍ او اهل ته د امانت نه سپارلو په بنیاد د ټولنې حالت په ګوته کوي. په شعر کښې (تله) د وخت له نظام سره تشبه شوې ده. لکه څنګه چې په تله کښې سپک څيز پورته او دروند ښکته وي، په همدې ډول پرته له دې چې زده کړې شخصيت او وړتيا ئې په پام کښې ونيول شي. بل ځائے وائي:

ګډې هډوکي کله خوري زمري وابنه څه کوي
هر چا ته خپل شق کښې په کار ټاکلېدل دي په کار

په غورو دربلو به د خولې څه په لاس در نه ولې
د غولولو دور تېر دے سمبدل دي په کـــار (۳)

په دغو بيتونو کښې د زمري لپاره هډوکي او ګډې لپاره وابنهٔ د خوړولو مواد دي خو که زمري ته وابنهٔ او ګډې ته هډوکي واچول شي، نه ئې خوري. نو ځکه وائي چې په ټولنه کښې بايد هر چا ته د خپل مسلک له مخې کار وسپارل شي. او له بې ځايه غورو او لاپو بايد ځان وساتل شي.

ښاد جبارخېل د مينې او محبت اشعار هم ويلي دي. د طبيعت ښکلا سره ئې د يار ښکلا ملګرې کړې ده. چې د بېلګې په ډول ئې د يو شعر څو بيتونه دلته راوړو:

کال تېر شولو رانغلې نن اختر دے که راځـې
سينګار مې د ښکلا ټول برابر دے که راځـې
باهو ګوتې په لاس او په لستوڼو مې پـاولې دي
په ګرداګر د لمنې ټک وهلې مې خانـــې دي
ګرېوان مې سپين جړاو لکه دا لمر دے که راځې
کال تېر شولو رانغلې نن اختـر دے که راځې
خندا نه شين خالې تور باهوګان سره مې لاسونه
سرې شونډې تور وربل ښکلې مې غاړه سپين غاښونه
شاغېږې ته وهلے ما ټټر دے که راځـــــې
کال تېر شولو رانغلې نن اختر دے کـه راځې

د کور د واکدارانو له اختیاره یم وتلـــــې
تیاره ستا یارۍ ته ملاتړلې یم غښتـــــلې
ورځ لاړه جبارخېله مازیګر دے که راځـــې
کال تېر شولو رانغلې نن اختر دے که راځې (۴)

په پورتني شعر کښې د یو کلیوال حسن انځور ښکاري. د (پاولۍ، خانۍ) باهو، ګوتې) ګاڼې استعمال، د اختر د ورځې تصویر، د خپلې محبوبې د مینې اظهار یو خاص خوند او رنګ دے چې د (جړاو، مازیګر، ورځ لاړه) له ژبنیو توکو سره په شعر کښې را جوتېږي او د شعر ښکلاییز رنګ سینګاروي. په یوه بیت کښې د څو توصیفي ترکیبونو (شین خالۍ، تور باڼوګان، سره لاسونه، سرې شونډې، تور وربل، ښکلې غاړه، سپین غاښونه) په راوړلو ئې د فکر او قلم قوت څرګندېږي.

د قاضي صیب جبارخېل په اشعارو کښې ښکلي ادبي صنایع هم لیدل کېږي، چې د بېلګې په توګه ئې له اشعارو نه یو څو بیتونه دلته راوړل کېږي:

چا په زلفو چا په لاس چا په لمن کښې
چا ځان پټ کړ د ګلانو په بړستن کښې (۵)

په پورته بیت کښې (ګلانو بړستن) یوه اضافي مؤکده نادره تشبیه ده، چې کاروه شوې ده. بل ځاے وائي:

مرغۍ په څېر ده پېغله جبارخېله فکر وکړه
خال سر وروځې وزر پزه لکۍ مزه لري (۶)

په پورته بیت کښې (پېغله) له (مرغۍ)، (خال) له (سر)، (وروځې) له (وزر) او (پزه) له (لکۍ) سره تشبیه شوې ده. په (۱۳۵۰ هـ.ش) کال چې کله ښاد جبارخېل صیب په فراه ولایت کښې قاضي وۀ او په ننګرهار کښې د نارنج ګل مشاعره جوړېدله، دوه شعرونه ئې ورته رالېږلي وو، چې د نمونې په توګه لاندې راوړل کېږي، چې د جبارخېل صیب شعري قوت د الفاظو ظریفانه استعمال او د معنی ګانو شاعرانه اظهار ترې په ډاګه څرګندېږي.

زه د نارنج د ګل مېلې ته ننګرهار ته ځمه
له اديبانو سره ګډ د بڼ سينګار ته ځمه

شعر او غزل، غږ د بلبل، د نارنج ګل ګورمه
الفت، حافظ او بختاني قتيل او بل ګورمه

بيا برابر د ملنګ جان مرحوم مزار ته ځمه
زه د نارنج د ګل مېلې ته ننګرهار ته ځمه

په شنه جامه کښې د نارنج نارنجي ګل د نارنج
نارنج لمنه د نارنج کښې په وربل هم نارنج

څو نارنجان ئې له ټټر اخلم بـــازار ته ځمه
زه د نارنج د ګل مېلې ته ننګرهار ته ځمه

چې نارنجان ئې د پلو د پاسه کښېـــکاږمه
اصلي مطلب ئې رابېرونه له سينې کـاږمه

په نارنجي خوند کښې ورو ورو د مينې کار ته ځمه
زه د نارنج د ګل مېلې ته ننګرهار ته ځمه

کښت او صنعت لارې مانۍ پوهه زياتېږي پسې
عقيدوي وړانګې به نورې هم کلکېږي پسې

نور حصارک ته جبارخېل سره ګلنار ته ځمه
زه د نارنج د ګل مېلې ته ننګرهار ته ځمه (۷)

د اختر مبارکۍ په يو شعر کښې د بديعي صنعتونو يو څو نمونې ليدلاے شو، وائي:

د مينې پارېدو کښې اختر دې مبارک شـــــه
د روغ صـــورت ليد کښې اختر دې مبارک شه
د ورځو تور شفق دې د سپين تندي اسمان کښې
که نشه د روغـــبړ ده د لوړ تعميـــر دالان کښې

برېښنا غمزه ښکاره کړه د رحم په بـــاران کښې
نن يو تر بل ګرانښت دے په ډېر جار او قربان کښې

د سترګو په پيالو کښې ميسر دې مبـــارک شه
د مينې پارېدو کښې اختر دې مبـــــارک شه

نن لاس په لاس سودا ده د سرو او هم د سپينـو
د سرو په سرو باک نشته د سپينو هم په سپينـــو

سود ښکاري اخيستو کښې د سرو په ونج د سپينو
خو سره نه معلومېږي حنا دي که په وينــــو

په ګوتو د لاسو کښې سره زر دې مبارک شـــــه
د مينې پارېدو کښې اختـــــــر دې مبارک شه (۸)

پورتني شعر کښې ورځې له تور شفق، تندے له اسمان سره تشبه شوي او بيا دا نيم بيتی په مجموع کښې له دويم نيم بيتي سره که ورته ځير شو د شعري ظرافت ښې نمونې په کښې ښکاري.

د وعظ او نصيحت په باب ئې هم ډېر اشعار ويلي، چې د نمونې په ډول ئې يو څو بيتونه دلته راوړل کېږي:

اى د اسلام د بڼ ګلانو مسلمانـــــو وروڼو!
يو څو خبرې له واورئ مسلمانـــــو وروڼو

که خیر رسېږي مونږ او تاسې ته یا شر پېښېږي
ایمان پر دې لرو چې ټول له پاک اکبر رسېږي

چې د اسلام دعوه کوو ولې ارکان نه منو
ښه بد معلوم دي راځئ لاره د شیطان نه منو

جنت د رب نعمت وي خو دا مرګ ځومره زحمت وي
دې غم ته وارخطا لا والله واجب الجنت وي (۹)

په پورته بیتونو کښې د ټولنې وګړي د اسلامي احکاماتو منلو او پلي کولو ته رابلل شوي دي، کله چې د اسلام دعوه کوو نو باید د شیطان خبرې ته لبیک و نه وایو. دغه راز په کښې که له یوې خوا د حنت د نعمتونو ارزښت ښودل شوے له بلې خوا نه په کښې د مرګ زحمتونه بیان شوي او دې زحماتو ته ئې واجب الجنت اشخاص هم وارخطا ګڼلي دي.

ښاد جبارخېل د خپلې قضا په دوره کښې تل له رشوت خور سره مقابله کړې ده، چې دغه اړخ ئې په اشعارو کښې هم ښکاري. د بېلګې په ډول ئې لاندې شعریو ښه ثبوت دے، وائي:

اخلمه رشوت، قلمانې نه مې رغېـــــــــــــږي نه
وورېکے پکښې لوے شوم دا عادت زما هـــېږیـــــــږي نه
پلار مې چې ویلې: زویه راشه! زه ورتلم کـــــــــــله؟
لږ شانتې یو څیز به ئې چې راکړل، بیا ترې تلم کـــــــله
وران خوي مې اخستے، اوس دا ښه خوي مې زده کېږي نه
اخلمه رشوت قلمانې، نه مې رغېـــــــــږي نـــــه
نشر شوم سیستان کښې د رشوت په ماهـــــــرۍ ســره
نه اخلم زه لاس جنګوم تیګه کـــــــــــکرۍ سره
ښاد جبارخېل ګوره چې اوس ما سره غـــــــږېږي نه
اخلمه رشوت قلمانې نه مــــــــــــې رغېږي نـــه (۱۰)

پورته شعر ښاد جبارخېل د رشوت اخيستونکي له خوا ويلے او د هغه حالت په کښې بيان شوے شوے دے. د (سيستان) اخبار چې په فراه ولايت کښې خپرېده، دا شعر په کښې نشر شوے دے، نو رشوت اخستونکے وائي چې ښاد جبارخېل اوس ما سره خبرې په دې وجه نه کوي چې زه رشوت او قلمانے اخلم. قلمانے هم هغه تحفه ده، چې رشوت اخستونکے ئې د خپل قلمي کار په بدل کښې له مراجعينو ترلاسه کوي.

د هېواد مينه ئې هم په اشعارو کښې ښکاري او د هېواد ابادېدل ئې د زړه ارزو ده، وائي:

زه د هېواد ابادېدل غواړمه
د لمر په څېر ئې ځلېدل غواړمه
چې په برېښنا ئې شي هېواد روښانه
د ناور سيند نور بندېدل غواړمه (۱۱)

په پورتني شعر کښې د (ناور سيند) د ننګرهار ولايت د غلجه ئې حصارک د ناور په کلي کښې د سپين غره د اوبو له برخو را تېرېږي چې د لوګر له ازرې سرچينه را اخلي. په ناور کښې له پرښې او منځ غونډي، سيمو نه دا کا له چارماغونه را وځي او تنګي له پله نه د نارو په سيمه کښې ګډېږي، چې پورې را اورې ترې (۶) وپالې رابلې شوي دي. په دې سيند د برېښنا بند جوړېدلاے شي. چې قاضي صيب جبارخېل دې تکي ته په کښې اشاره کړې ده.

ښاد جبارخېل په دري ژبه هم ډېر شعرونه ويلي دي، چې د بېلګې په ډول ئې يو شعر دلته راوړل کېږي، چې د حضرت حسين (رض) د شهادت په اړه ئې ويلي دي:

از حزن جوش قلبم چو فوران بود از عين
ز انگاه که شد اگاه دلم از ماتم حسين
انان نا زنان رفتند ما و تو کجا مانيم؟
آنان در غم ما و تو ما در غم خانيم

از صخره کر سختتر بود صلابت دل ها کی میتوان برداشت چنین طاقات غمها (۱۲) ژباړه: د زړه له جوشـــه مې سترګو فوارې جوړې کړې

د حسیــــــن غم مې په زړه کښې ولولې جوړې کړې
لاړل هغه د ناز وګړي مونږ به پاتــــــې نه شــو
دوي زمونږ غم کښې وو مونږ خپل غم کښې کیسې جوړې کړې
د زړو کلک والے که له کاڼو نه هم سخت وي کلـــه
کله برداشت لرو د غم مونږ شرشرې جوړې کــــړې

ښاد جبارخیل په عربي ژبه هم ډېر شعرونه ویلي دي، چې د بېلګې په ډول ئې د یو شعر څو بیتونه دلته راوړل کېږي:

النشیده

| | | | |
|---|---|---|---|
| امر | | الله | المــتعال |
| صر | بعلم | عال | عال |
| اجتنب | | جهل | الجهال |
| التزم | | وجه | الکمال |
| اتزنیت | | عجب | الزمان |
| سخر | ما | فی | المکان |
| ایقظ | | اترک | الکسال |
| صر | بعلم | عال | عال |
| انتبه | | ((شاد | جبارخیل)) |
| لا | تبق | من | قوا فل |
| اسبق | من | اسبق | الحال |
| صر | بعلم | عال | عال (۱۳) |

په پورته ډول د قاضي صيب حفيظ الله ښاد جبارخېل د اشعارو بېلابېلې نمونې راوړل شوې، چې د دوي د شاعرۍ بېلابېل اړخونه په ګوته کوي او په دريو ژبو (پښتو، دري، عربي) کښې ئې د شعر ويلو قوت څرګندوي.

## پايله

پروفيسر ډاکټر قاضي حفيظ الله ښاد جبارخېل د پښتو ژبې او ادب د ښېرازه بڼ هغه هزار داستان بلبل دے، چې په خپلو رنګينو نغمو کښې ئې ښکلي شعرونه د اورېدونکو تر غوږو ورسولې او د هغوي هنري تنده ئې پرې ماته کړې ده.

په اشعارو کښې ئې د شکل له مخې غزل، مثنوي، رباعي، او په ملي اوازانو برابرې شعري نمونې ليدلاے شو.

د محتوا له مخې ئې په اشعارو کښې رنګارنګ موضوعات ځاے شوي دي، چې زياته برخه ئې اجتماعي، اصلاحي، انتقادي، ديني او عشقي رنګ لري. په اشعارو کښې ئې د کليوالي، ساده کلمو کارونه هغه ځانګړنه ده، چې د دوي سبک ته ئې وربخښلې ده. په شعر کښې ئې ډېر عالي پښتني اصطلاحات، کلمې او ترکيبونه ليدل کېږي، چې د عربي ژبې له اغېز نه تر يوه حده خلاص ښکاري.

دا چې دوي خپلې زده کړې د دکتورا تر سطحې په اسلامياتو او عربي ژبه کښې کړې دي. په اشعارو کښې ئې د ميني او مذهبي رنګ غالب دے او په ټولنه کښې ئې بېلابېل ناروا مسايل لکه: (رشوت، سود، دروغ او نور) په کلکو ټکو غندلي دي. دغه راز ئې عشقي موضوعاتو ته هم په خپلو اشعارو کښې ځاے ورکړے او د ميني په کار کښې هم استاد ښکاري. اشعار ئې د فصاحت او بلاغت په ګاڼه سمبال دي او په کلام کښې ئې هيڅ ډول لفظي او معنوي پېچلتيا، ابتذال او غوټې نه ليدل کېږي، چې لوستونکے ترې په زغرده خپل مقصد اخستلاے شي.

## ماخذونه


۱: قتیل زوے، خلیل الله. (۱۳۸۵ هـ.ش) ورځ مجله. ۴۱ مه گڼه. ښاد جبارخېل سره مرکه، د ساپي پښتو څېړنو مرکز (۸۵ مخ)

۲: ښاد جبارخېل، حفیظ الله. شتون (د اشعارو ناچاپه اثر)

۳: ښاد جبارخېل، حصارک فرهنګي دودونه (۲۱ مخ)

۴: ښاد جبارخېل، حفیظ الله (۱۳۶۶ هـ.ش) د حصارک ځینې فرهنګي دودونه، مونو ټایپ دولتي مطبعه. کابل، (۴۰ مخ)

۵: ښاد جبارخېل، حضرت یاد، (۱۳۶۴ هـ.ش) دولتي مطبعه، کابل (۲۵ مخ)

۶: ښاد جبارخېل، حضرت یاد، (۱۳۶۴ هـ.ش) دولتي مطبعه، کابل (۲۶ مخ)

۷: ښاد جبارخېل، حضرت یاد (۱۳۶۴ هـ.ش)، (۳۲مخ)

۸: ښاد جبارخېل، حضرت یاد (۱۳۶۴ هـ.ش) (۳۲) مخ

۹: قتیل زوے، خلیل الله، ورځ مجله (۸۷) مخ

۱۰: وفا، محمد داود، ستوري د ادب په اسمان کښې، (۲۲۸ مخ)

۱۱: ښاد جبارخېل، حفیظ الله، د غلجه یي حصارک فرهنګي دودونه (۲۲ مخ)

۱۲: ښاد جبارخېل، حضرت یاد (۱۳۶۴ هـ.ش) (۳۵ مخ)

۱۳: ښاد جبارخېل، د وروستیو کلونو نا چاپه متفرق اشعار